AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهنمل حاجي محمد نوزادي ۲۰۲۲/۱۲/۱۹

# د ښارونو نومونه د تاريخي واقعيتونو

## او آرپوهني په رڼا کې

که څه هم زه نه تاريخپوه او نه د ژبپوهنی سره مسلکي تړاو لرم . خو پدې وروستيو ورځو کې چې نژدې توليرسنی د پروان ولايت د مرکز چاريکار ښار د نامه بدلون پر شاوخوا را گرځي ، زه يې هم د لاندي ځو کرښو و ليکلو ته اړ ايستلم : له هر څه نه وړاندي بايد ووايم چې زه پخپله پدغو حساسو او نازکو شيبو کې چې هرڅه حق او ناحق په کاږه ډول تعبيريږي ، نه يوازې د ښارونو بلکه د يوه واړه کلي د نامه د اړولو پلوی هم نه يم .

دا کار که اړين هم وی ، په هکله يې نه بايد د بيړي نه کار واخيستل سي . هر کله چې د خيره د کورني او بهرني مشروعيت خبره حل او هر چا خپل ځای و پيژندي ، د ښارونو د نومونو اړول کيدلای سي د اړوند ولايت د ميشتو اتباعو څخه د يوې ټولپوښتني د لاری تر سره سي .

را و به گرځم چاريکار ته:

ابو حنيفه عليه رحمه چې پخپله لاره کې زما په شمول په سلهاوو ميليون کسان پلويان لري ، په حق سره يې د امام اعظم پنامه شهرت موندلي او ددې مستحق دی چې نامه ته يې درناوی وسی . په رسنيو کې دا سی پوه سوم چې د پروان د والي په وړانديز او د اړوندو مقاماتو په تائيد د چاريکار پر ښار باندي پدې خاطر د ابو حنيفه نوم کښيښودل سو چې د نومړي ولايت د والي په نظر « نام چاريکار نه اساس تاريخي و نه هم فرهنگي دارد » . په هر حال دغه کار بيلابيل غبرگونونه را و پارول . د بيلگي په توگه :

الف ـ د افغان انټرنيشنل په تلويزيوني مرکو کې يوه کس چې د تاريخي چارو اگاه يې باله ، د چاريکار د نامه ايتيمولوجي ( ريښه پيژندنه يا آرپوهنه ) داسي و ښودله چې يو زمان پر دغه منطقه د ورېښمو لاره سپره وه ، کاروانونه چې به کله د ستونزو سره مخ سوه ، دلته يې د مشکل حل موندلای سو چې دا عمل يې « چاره اي کار » ( د ستونزي حل ) باله او وروسته په « چاريکار » واوښته .

ب ـ بل اگاه کس دا ريښه داسي را وسپړل چې په پخوا زمانو کې به ددغي سيمي و کارکوونکو خلگو ته د حاصلاتو څلورمه برخه د مزد په توگه ورکول کيده يعني « چهار يک » چې يې بلل او وروسته دا ځای « چاريکار » ياد سو.

ج ـ پدرام او يارانو يې په ابو حنيفه باندي د « چاريکار » د نامه اړول په خپلو په اصطلاح علمي نظرياتو کې دا کار د طالبانو فارسي ستيزي او د پښتونيزه کولو چارو يوه برخه ياده کړه . زه نه پوهيږم چې د ښاغلي پدرام انديوالان د کوم سند له مخي ابو حنيفه پښتون بولي او يا خوشي د افغان تيزی له مخي دا ډول تيزس را مخته کوي . د ـ زما په نظر د ايتيمولوژی بنسټ نبايد يوازې د الفاظو د اوازونو د ورته والي له مخي و ټاکل سي بلکه بايد تاريخي او منطقي ريښې يې هم په پام کې و نيولی سي . ددغو د لايلو پر اساس زما په اند د ( چاريکار ) د نامه ريښې د سيمي د اوسيدونکو او ددوی د اوسني او پخواني کسبي شهرت په پام کې نيولو سره»

چاړه کار يا چاقو کار » دی چې وروسته په « چاريکار » باندي اوښتي دی ، دا ځکه چې زموږ په هيواد کې (چاريکار ) يوازنی سيمه ده چې وگړي يې د پيړيو پيړيو را هيسي د چاقوگانو ، چاړو او قيچي گانو د جوړولو په کسب مصروف او پدې هکله تاريخي شهرت لري . دا وه هغه ځو ټکيي چې پدې اړه مي د وطنوالو سره شريک کړل . خدای دی وکړي لوستونکي او مينوال يې په هکله خپل نظريات راسره شريک کړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنی د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ